لیکوال: هانس کریستیان اندرسن
ژباړن: آصف بهاند

۲۰۱۷/۱۰/۱۲

# د کوچنۍ «ایدې» ګلان

# Den lille Idas Blomster

## دويمه برخه



وړې «ايدې» په داسي حال کي چي لاسونه يې پرکول، وويل:
«خندونکي ده! زه هم نه شم کولای چي ګلان ووينم؟»
زدکونکي وويل:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

«ولي نه، زه يې انګيرم چې ته کولای شې. په ياد دې وساته، بل ځلي چې هلته ولاړې د ماڼۍ له کړکيو نه دننه ور وګوره، ښايي وې ليدلای شې. ما همدا نن دا کار وکړ، يو اوږد زيړ نرګس پر کوچ باندې اوږ غځيدلی و او داسې يې ښودله چې يوه درباري ميرمن وي!»
«ايدې» وپوښتل:
«آيا د شنليو د بڼ ګلان هلته تلای شي؟ کولای شي هغوی دومره اوږده لار ووهي؟»
زدکونکي وويل:
«بلې هغوی کولای شي راشي. ګلان هر وخت چې وغواړي، کولای شي والوزي. آيا تا سره، زيړ او سپين پتنګان نه دي ليدلي؟ هغوی داسې ښکاري لکه ګلان او دا هماغه څه دي، لکه يوه ورځ چې وو. دا هغه ګلان دي چې يوه ورځ له خپلو څانګو نه هوا ته والوتل او الوتل يې زدکړل چې په خپلو پاڼو لکه وزرونه داسې والوزي او کله يې چې الوتل ښه زدکړل، هغوی ته د ورځې له خوا هم د الوتلو اجازه ورکړل شوه، پرته له دې چې بيرته کور ته راوګرځي او پر خپلو څانګو غلي کيني. په پای کې د ګلانو وړې پاڼې، په ريښتينو وزرونو بدلې شوې.
تا خپله ليدلي دي! ښايي د شنليو د بڼ ګلان هيڅ کله هم د بادشاه ماڼۍ ته نه دي تللي، او يا هم نه پوهيږي چې د شپې له خوا هلته څه له خوندونو ډک ځای دی. اوس بايد زه تا ته داسې څه و وايم چې د شنليلو د بڼ د پروفيسور له پاره ـ چې په همدې څنګ کې ژوند کوي او ته يې حتماً پيژني ـ هم د تعجب وړ شي.
کله چې د هغه بڼ ته ورځې، ورو يو ګل ته ووايه فلانۍ شپه په ماڼۍ کې د ګډا مجلس جوړيدونکی دی، بيا وګوره چې څه کيږي. هغه ګل به دا موضوع نورو ګلانو ته ووايي او ټول به د ماڼۍ په لوري والوزي. کله چې د شنلي پيژندني پروفيسور د بڼ په لوري ولاړ شي، يو ګل به هم په بڼ کې نه وي او هغه به پوه نه شي چې ګلان چيرې تللي دي.»
ـ «خو ګلان څنګه کولای شي يو بل ته ووايي؟ ګلان خو غږيدای نه شي!»
ـ «نه، په ريښتيا سره چې هغوی غږيدای شي! هغوی د پانتوميم په ښه، يعني د لاسونو او بدن په خوځولو دا کار تر سره کوي! نه دې دي ليدلي کله چې ورمه چليږي، څنګه ټول ګلان خپل سرونه ښوروي او ټولې شنې پاڼې ښوروي، داسې لکه د څه شي په باره کې چې خبرې سره کوي!»
«ايدې» وپوښتل:
«آيا د بڼ پروفيسور د هغوی په اشاري ژبه (پانتوميم) باندې پوهيږي؟»
زدکونکي ځواب ورکړ:
«البته چې پوهيږي! يوه ورځ سهار دی کله چې لاندې خپل بڼ ته راغی، وې ليدل چې جګ سوځونکي بوټي په خپلو پاڼو سره، د لونګو سره ګل ته اشاري رسولي. جګ سوځونکي بوټي په خپلو دې حرکاتو سره غوښتل ووايي:
ته ډير ښايسته يې او ته په ما ډير ګران يې، خو د بڼ پروفيسور دا خبرې نه خوښوي، په همدې دليل يې د سوځونکي بوټي پانو ته يو ګزار ورکړ، سوځونکي بوټي د هغه لاس وسوځاوه او له هغه نه وروسته پروفيسور هيڅکله زړه ښه نه کړ چې د سوځونکي بوټي خوا ته لاس ور اوږد کړي!»
وړې «ايدې» وخندل او وې ويل:
«ډيره خندونکې ده!»
د پوهنتون رئيس چې د ليدلو له پاره راغلی و، له خپلې ستړې کونکې څيرې سره هلته پر کوچ ناست و ، د دوی خبرې يې واوريدې او وې ويل:
«دا څه چټيات دي چې د کوچنيانو ماغزه پرې ډوکوئ!»
د پوهنتون د رئيس دا محصله هيڅ نه خوښيده. محصلي به چې کله په بياتي سره، له کاغذ نه خندونکي انځورونه جوړول، په هغه به په قار کيده او وربانديې غوريده، اوس محصل داسې يو انځور جوړ کړی و چې يو سړی په دار ځړول شوی او په لاس کې يې يو زړه دی، څکه چې په دار را ځړول شوی سړی د زړونو غل و. اوس يو بل انځور، داسې چې يوه سحرګره ښځه، له خپلې اوږدې پزې سره پر يوه اوږده جارو باندې سپره ده او خپل ميړه ليږدوي.
د پوهنتون رئيس دا کارونه نه خوښول، اوس يې بيا لکه مخکې ځل وويل:
«دا څه چټيات دي چې د کوچنيانو ماغزه پرې ډوکوئ! دا څه احمقانه خيالپلو دی!»
خو وړې «ايدې» د زدکونکي د خندونکو خبرو په باب، چې د دې د ګلانو په هکله يې و ويلې، ډير فکر وکړ. د ګلانو سرونه زوړند دي، دوی ستړي دي، ځکه چې ټوله شپه ګډيدلي دي، حتماً به ناروغه وي. ځکه يې خپله د ګلانو ګيډۍ جګه کړه او د هغه ميز پر سر يې کيښوده چې د دې د لوبو اسباب پرې ايښي وو. دې يوه ډکه ټوکرۍ د لوبو اسباب درلود، همدا راز يوه نانځکه يې درلوده چې د خوب پر تخت اوږده غځيدلې وه. د هغې نوم «سوفيه ـ Sophie» و. وړې «ايدې» نانځکه را جګه کړه او ورته وې ويل:
«سوفيې ته بايد جګه شې او نن شپه په ټوکرۍ کې ويده شې، خوارکوټي ګلان ناروغه دي، هغوی به ستا پر تخت ويده شي، ښايي چې را ښه شي!»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

دغسي يي نانځكه راجگه كړه، خو نانځكه د خوب د تخت د پرېښودو په وجه ناراضه ښكارېده او اعصاب يي خراب و، خو څه يې و نه ويل.
ورې ايدي گلان د خوب پر تخت كېښودل، رويجايي يي پرې واچوله او هغوی ته يي وويل كه غلي وغځيږي، دوی ته به يو چاى رابرابر كړي چي دوی ورباندې را ښه او سهار ته را جگ شي. بيا يي د خوب د تخت پردې راكش كړې چي لمر د دوی سترگو ته ور نه شي.
ورې «ايدې» د هغي ورځې، وروسته له غرمي نه يوازې د ځواني زدكونكي د كړو خبرو په باب فكر وكړ، نه د بل څه شي په باب. كله چي د خوب وخت شو، د كړكی څنگ ته لاړه، چيرې چي پردې را زوړندې وې او د كړكی په خوله كي يي د موركی سنبل او غاټول ښكلي گلان ايښي وو، ورو يي گلانو ته وويل:
«زه پوهيږم چي نن شپه تاسو د گڈا بنډار ته ځئ.»
خو گلانو داسي وښوده چي دوی په هيڅ شي پوه شوي نه دي، ان تر دې چي خپله يوه پاڼه يي هم و نه ښوروله، خو وړه «ايدا» پوره پوهيده.
«ايدا» د خوب تخت ته لاړه، يوه شيبه پر تخت اوږده وغځيده او سوچ يي وكړ چي د بادشاه په مانی كي به د گلانو گڈا حتماً ښكلي وي او له ځان سره يي ورو داسي ويل:

«آيا زما گلان به ريښتيا له هغوی سره وي؟» او بيا ويده شوه.
د شپي ناوخته له خوبه را ويښه شوه، هغي گلان او زدكونكي په خوب كي ليدلي وو، هغه زدكونكي چي د پوهنتون رئيس به د هغي په باره كي ويل چي د «ايدې» ماغزه په بې مانا شيانو ډكوي. د «ايدې» د خوب كوټه ډيره آرامه وه. د ميز پرمخ د خوب څراغ لگيده او مور پلار يي ويده وو.

د دويمي برخي پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينگه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزی بني پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له رااليرلو مخكي په ځير و لولـئ